# فضل غني غني

مفلس درانے

پښتو یوه داسې بختوره ژبه ده چې نهٔ ئې پخوا په سرکاري توګه سرپرستي شوې ده او نهٔ اوس. حالانکې پښتنو باچاهانو په سوونو کاله د آمو نه واخله تر بنګاله پورې حکومت کړے دے چې ډېر پکښې په خپله ښهٔ شاعران وو. لرې به نهٔ ځو زمونږ خپل ستر ابدالي بابا خو به د ډيلي تخت هېرولو چې به وریاد شو د خپلې پښتونخوا د غرهٔ سرونه. خو دا توفيق هغهٔ له هم خدائے ورنهٔ کړه چې کهٔ پښتو ئې هغه وخت سرکاري ژبه د فارسۍ په ځائے ګرځولې وے نو نن چې دا تش د پښتونخوا "د صوبې په نوم" مخالفت شروع دے دا به نهٔ وُ.

هسې هم مرګي داسې وخت په وخت د پښتو منګول تروړلي ده چې پښتو او پښتو ادب ورپسې د اوښکو په ځائے په وينو ژړلي دي. تش په تېره تېره د وروکي اختر میاشت کښې درې نومیالي زامن ترې مرګي وتروړل. فضل غني غني، سبدرسول ناڅاپه چې د صدارتي حسن کارکردګۍ ایوارډ یافته او د یو متحرک شخصیت خاوند وُ، بل د صوابۍ د سیمې ځلمے شاعر اجمل منصور چې ناوې کوروداني او یو ماشوم زوئے ترې پاتې شو. شاید چې هغهٔ ته د دې مادي دنیا نه بلې روحاني او ابدي دنیا ته د تللو الهام شوے وُ ځکه خو ئې لکه د حافظ شېرازي وئیلي وو چې:

زما لا څوک دي چې زما په ځلي اوښکې توئې کړي
زهٔ په خپل ځان باندې ماتم د ځانه مخکښې کوم

بر مزار ما غریبان نے چراغ نے گلے
نے پر پروانه سوزد نے صدائے بلبلے

او دغسې د پښتو دا ځلمو ټے شاعر هم ګېله من دے وائي چې څوک به ما د مرګه پس یاد کړي هسې هم پښتنون ډېر بې حسه دے! خو نا داسې نهٔ ده نهٔ خو حافظ چا هېر کړو او نهٔ به پښتو او پښتانهٔ ليکوال تا هېر کړي. ليکوال مې ځکه وليکل چې تر کومې پښتون قوم کښې لکه د بنګاليانو او سندهيانو قومي جذبه نهٔ وي رالړزېدلې تر هغې د پښتون نه د قومي پښتونولۍ طمع کهٔ ناممکنه نهٔ ده نو ګرانه ضرور ده.

د کومې پورې چې د فضل غني غني تعلق دے نو هغه یو سپېځلے شاعر، نامتو ليکوال، قابل بېنکر، په معاشي معاشرتي او سیاسي حالاتو خبر په صحيح توګه د نُوک نه واخله تر سره د هر وېښته پورې نېشنلے، مکمل خدائي خدمتګار، د باچا خان او رهبر تحریک خدائے بخښلي ولي خان بابا مرید او بالکے وُ او د هغوي په مینه مست ورک لېونے وُ.

فضل غني د هشنغر په اخري اتم کلي تنګي کښې حاجي فضل اکبر کره په اګست **1952** کښې وزېږېدهٔ. د ایم اې پورې د تعلیم پوره کولو نه پس ئې د نېشنل بېنک ملازمت اختیار کړهٔ. د منېجر تر عهدې د رسېدلو نه پس د صوبې د نېشنل بېنکونو اډټ افسر لګېدلے وُ نو کهٔ نن به ئې یوه پېښه بنو یا کوهاټ کښې وه نو سبا به ئې بله پېښه په سوات یا

چترال کښې وه، خود اعتمادي پکښې دومره وه چې هغه ما بل يو بېنک منېجر کښې نۀ وه ليدلې. کله چې هغه شبقدر کښې د نېشنل بېنک منېجر ؤ چونکې شبقدر کښې زما کاروبار ؤ نو اکثر به مو ورسره ملاقات کېدۀ. يوه ورځ زۀ ورسره ناست وم، چائے مو څښلې چې دې کښې يو افغانے ورور راغے، د سلام دعا نه پس، افغاني ورور و ئيل چې منېجر صېب دوه لکه روپۍ مې پکار دي او غني ورله دغه دوه لکه روپۍ بې د څۀ ضمانته ورکړې چې هغه لاړۀ نو ما ورته وئيل چې هلکه! منېجر صېب ډېر لوئے رسک دې وانۀ خستۀ، د منېجر جواب ؤ حاجي صېب ژوند ټول رسک رسک دے او شايد چې په سبا يا په بله ورځ هغې افغاني هغه رقم هغۀ ته واپس کړۀ.

د فضل غني غني د باچا خان بابا کورنۍ سره تعلق د پلار او د زوئے ؤ کله چې به نوے کال شروع کېدۀ نو غني به قيمتي نه قيمتي ډائري واخستله او ولي خان بابا له به ئې يوړله او دغه د هغۀ د دې خاندان سره د مينې محبت او عقيدت ښکاره ثبوت دے چې هغه ئې د اختر په دويمه ورځ اسفنديار ولي خان له د اختر مبارکۍ له بوتللے ؤ خو د خپل قسمته څۀ خبر ؤ چې دا د هغۀ اسفنديار ولي خان سره اخري ملاقات او د اختر اخري مبارکي ده خو د حېرانتيا خبره دا ده چې د دومره سختې سيکيورټۍ سره سره خودکُش حمله آور څنګه اسفنديار ته دومره نزدې ورسېدۀ، دا خو ښه وه چې د اسفنديار ذاتي محافظ خان قربان کړۀ او هغه د قوم سالار ئې بچ کړۀ کۀ خدائے مۀ کړه هغۀ ته څۀ نقصان رسېدلے وے نو د دې قوم او ملک به څۀ حال ؤ او دغسې غني غني ته په يو نظم کښې د خپل عقيدت اظهار داسې کوي چې د هغې نه د غني د يو ښۀ شاعر په توګه اظهار کېږي وائي:

د هر چا د زړګي سرؤ د هر چا ښکلے دلدار ؤ
کۀ زما نه تپوس وکړې هم مې مشر هم مې يار ؤ
هم مې دوست هم مې همځولے زۀ ئې زوئے دے مې پلار ؤ
زۀ د دۀ د زړۀ قرار وم، دے زما د زړۀ قرار ؤ

د غني نۀ يوائې د غني خان سره داسې نزدې تعلق ؤ بلکې د دې خاندان هر فرد هغه ولي خان بابا ؤ هسې خو بېګم نسيم ولي خان د ټول پښتون قوم مور او ټول قوم هغه خپل بچي ګڼي خو په بچو کښې ځينې نيازبين هم وي او فضل غني غني د بي بي په ډېرو نيازبينو بچو کښې ؤ، د دغې نه سېوا د فضل غني غني د پښتونخوا د قلندر مومند، اجمل خټک، شېرزمان طائزي، سليم راز، فضل دين خټک، ډاکټر اعظم اعظم، ډاکټره سلمیٰ شاهين، ډاکټر راج ولي شاه خټک، داور خان داؤد او ګڼو نورو ليکوالو او شاعرانو سره خصوصي تعلقات وو. هغه يو ښۀ انسان د باچا خان د عدم تشدد په فلسفه يقين لرونکے يو مخلص سياستدان او سپېڅلے ليکوال هم ؤ.



فضل غني غني د ارواښاد ماسټر کريم نه پس د ننۍ دنيا د سرخط لاندې د خبرلوځي په نوم په

پښتون کښې په سياسي، معاشي، معاشرتي او ادبي موضوعاتو ليکل کول او په کومه موضوع چې به ئې ليک کولو په هغې به ئې ښۀ مټ برؤ. د افغانستان په جنګ کښې د امريکې، فرانس او اسرائيل د انساني همدردۍ په نوم درې مقصده وو، هغه"ننۍ دنيا" کښې ليکي اول د همدردۍ په توګه په لکونو انسانان قتلول، دوېم د روس نه د هندوستان بد رخه کول او چې روس په خپلو کړو پښېمانه کړي او درېم دا چې د اسلامي ملکونو په مېنځ کښې بې اتفاقي پېدا کړي او پاکستان کښې ئې هم د امريکې په نوم خو د اسرائيل مضبوطه اډه جوړه کړله بل دا چې په دې چل په عرب کوېت، اردن کښې ئې عمل دخل زيات شو.

مونږ به د پاکستان سياسي افلاطونانو ته وئيل چې د افغانستان په تنازعه کښې لاس مۀ وهئ، افغانستان افغانانو ته پرېږدئ هغوي پوهه شه او د هغوي کار لېکن د پاکستان سياسي نجوميانو د افغانستان په تباهۍ کښې خپله ګټه لټوله او دا فکر ئې کولو چې د ګاونډي په کور اور لګول په خپل کور اور لګول وي، مخکښې ليکي چې د ډېرې تباهۍ او بربادۍ نه پس چې د ډاکټر نجيب الله آئيني او قانوني حکومت ئې له منځه يوړلو نو په پاکستان کښې ئې چراغان وکړو او د ډاکټر نجيب الله په شهادت زمونږ وزير اعظم په افغانستان کښې دوه رکعته نفل هم وکړل خو د افغانستان د فتحې په خوشحالۍ ګلبدين حکمتيار پوهه نۀ کړه او د راکټونو په درز غوبل کښې واپس راغلو. دې اقتباس کښې د هغۀ سياسي بصيرت او طنز محسوسولے شئ، هم د 1992 په پښتون کښې د پاکستان په خارجه پاليسۍ داسې تبصره کوي ليکي:

د پاکستان خارجه پاليسي د وخت له سره د امريکې په مشوره جوړېږي او چلېږي. په بين الاقوامي سطحه د پاکستان خپل تشخص نشته صرف د امريکې د يو تالي څټ ملک په حېث ئې دنيا پېژني. دا وخت د غور او فکر دے چې امريکه دې د قربانۍ ګډوري ته اوبۀ ولې څړوي؟

هغه پښتون**1993** فروري د کالاباغ ډېم په حواله د هغې وخت د نواز شريف د کابينې د يو وزير نادر پروېز په حواله ليکي چې په راتلونکي الېکشن کښې به د دروغو په عوض کښې خلقو ووټونه ورکړي وو البته په يوه خبره ئې خلۀ ډېره بدې ښکاره شوې ده خو د هغۀ په شرم څۀ هغه خو لمبېدلے آس دے، نواز شريف ورته د چنې توبره ورپه خلۀ کړې ده ولې په هغې کښې هم بړبړ کوي مونږ ته پته ده چې نادر پروېز په حکومت کښې ناست د چا ايجنټي کوي ګني دا خبره به ئې په خلۀ څنګه راتلله چې حکومت عوامي نېشنل پارټۍ سره د کالاباغ ډېم په مسئله د مفاهمت په لار پرمختګ کړے دے او په لنډه موده کښې به د کالاباغ ډېم په جوړولو لاس پورې کړے شي، معلومېږي چې دا بعضې وزيران د پاکستان د وزيراعظم په لاره کښې اغزي نولي.

دا دومره زياتې اوږدې حوالې مې څکه وړاندې کړې چې د هغې د فضل غني د سياسي پوهې د هغۀ د طنز او مزاح او د هغۀ د نثر د ستائل نه لوستونکي خوند او مزه واخلي چې د ماسټر کريم نه پس د هغۀ ننۍ دنيا هم د هغۀ په رنګ او پل روانه کړې ده.